مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۶/۰۹/۰۸

# د وخت لاس کې نانځکه

زه دوخت لاس کې را ایساره یم نانځکه یم
درنې څپېړې پر مخ خورمـه که نازکه یـم

تندریزې سیلی شور مې مخ تمبې سـوزوي
زما د پلور سودا مې تره کړي بې بابکه یم

مخ پر ورانديز نړی ځي د عروج لاره وهي
زه د تـیاره ذهـن بنـدی پـرتـه پـر زمـکه یـم

سربداله ژوند کړم تنګه نور يې نه غـواړمه
ځانته کړم پورته شه زه کلکه تـر هـلکه يم

زلبلن زړه مې لمبه دی وايې شورجوړ کړمه
خو تـرل شــوې يـم پـر کور زه له ملکه يم

غرونه که لوړ دي پر سر لار لري خبر اوسئ
د پیوستــون غـږ تـه ولاړه تـر اتـکـه یــم

ګاونډی هوبازاني کړی بـریـدونـه پـرمـوږ
پـه ځوابي غبرګون کمزورې بې درکـه یـم

مسلمـان پـه نــوم لـه امـر د الله لـرې ځـي
د قـرآن پـيل کې پـه اقرا ويـلـو کـلـکه یـم

اسمـانـي کـتـاب قـران لـه ايـت مـخ اړوي
داسـې واکـدار ګـوښـه کیـدو پـلـوی ځکه یم

دی مـې راتلونکي ډوبوي له ما قلم اخلي
لکه بیــبـو زه د بکـوا دښـتـه کې ورکـه یـم

هاجرې د ولس قارهر زورواک راغورزولی دی
دوي رنا څرک وژني تیارو ته هـکه پـکه یـم



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ